مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر ۲۰۲۳/۰۶/۱۸

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه
(دولسمه برخه)

**تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۵)**

**د ملي وحدت حکومت، د اجرائیه رییس عبدالله کړنې**

لکه پخوا مو چې یادونه وکړه یونس قانوني د سقاؤ د جنازې پر مهال ډېره ناقانونه وینا وکړه، د یونس قانوني تخلص په حقیقت کې سرچپه مانا لري، نوموړي ثابته کړي ده چې ډېرى کړني او خبرې یې د افغانستان د ټولو قوانینو پر خلاف دي، نو کله چې موږ د یونس تخلص لیکو دا مانا نه لري چې نوموړى یو قانوني شخص دى بلکې منظور مو له یو ناقانونه کس څخه دى. د نوموړي یوه بېلګه چې د قانون او واقیعت پر خلاف د سقاؤ د زوى په اړه څرګندوني دي، نوموړي وویل چې امان الله خان او سردار محمد داؤد خان واک ته د رسیدلو په موخه کودتاوې وکړې، تر دې چې پر امان الله خان یې د پلار د قتل تور هم پورې کړ! یونس قانوني غواړي د غلو ستر او مشهور مشر بچه سقاؤ، له امان الله خان او داؤد خان سره په یوه لیکه کې ودروي او د سقاؤ بغاوت د امان خان پر وړاندې توجیه کړي. د امان الله خان او داؤد خان شخصیتونه، کورنۍ او تاریخ، د سقاؤ د زوى له شخصیت، کورنۍ او کړنو سره د ځمکې او آسمان توپیر لري. د افغانستان په تاریخ کې د سقاؤ په څېر بل داسي جاهل نه دى لیدل شوي چې پر کابل واکمن شوى وي، سره له دې چې په کابل کې د تنظیمي جګړو پر مهال هم یو شمېر جاهلان واکمن شوي وو خو د سقاؤ په څېر ستر جاهلان نه وو، د سقاؤ جهالت او حماقت د هغه له لومړنۍ وینا څخه په ښه توګه څرګندیږي، د هېواد پېژندل شوی ژورنالیست او لیکوال مرحوم غلام محی الدین انیس چې د سقاؤ د تاریخي وینا پر مهال د کابل د مهمان خانې په باغ (باغ مهمانخانه) کې حاضر ؤ او د سقاؤ وینا یې له نږدې اوریدلې ده په اړه یې داسي لیکلي: په داسي حال کې چې د مهمان خانې باغ د کابل او کوهستان له خلکو ډک ؤ او ټول د سقو راوتلو ته منتظر وو، نږدې دولس بجې وې چې سقو [د دې پر ځاى چې د ودانۍ له دروازې راووځي] د ودانۍ له یو کړکۍ راووت او په هماغه منځنۍ لهجه یې خپله لنډه وینا وکړه چې د هغې مفهوم داسي دى: **«ما د پخواني حکومت لاتې کړي، کفر او بې دیني ولیدله او د رسول الله د دین د خدمت لپاره مې د جهاد ملا وتړله، ترڅو تاسي ورونه له کفر او لاتي ګرى وژغورم.**
**وروسته له دې به زه د بیت المال پیسې په تعمیراتو او مکتبونو ونه لګوم او دا پیسې به خپلو عسکرو ته ورکړم چې چاى، قند او پلو وخوري او ملایانو ته به یې ورکړم چې عبادت وکړي»**
مرحوم انیس زیاتوي چې بیا ناڅاپه په خپله بدبختۍ پسې شو او د دولت ټول محصولات، لکه صفایي، مالیات، ګمرک او نورو عوایدو د نه اخیستلو ژمنه یې وکړه چې نه به یې اخلي او بښلي مې دي.
دا یې هم وویل چې **نور زه ستاسو پاچا یم او تاسي زما رعیت یې.**
انیس لیکي چې په وینا کې د هغه د بې منطقه خبرو چې د ده جهالت او ناپوهي یې څرګندوله وویل: **«ورځې وروسته له دې همیشه خپل ساعت تېر کړئ، چرګان وجنګوئ، مرزان وجنګوئ، خپل وخت ترو تازه تېر کړئ.»** او وروسته خپلې کوټې ته ننوت. (بحران و نجات. ۹۷-۹۶)
یونس قانوني د خپلو خبرو په اوږدو کې خپل پخواني (مرغ باز او بودنه باز) مشر، څو ځلې د **(خادم دین رسول الله)** په نوم یاد کړ، د سقاؤ زوى ته دا ستاینوم (لقب) د شوربازار حضرتانو ورکړى ؤ چې وروسته دغو حضراتانو په همدغه خادم دین رسول الله باندې، **(دشمن دین رسول الله)** فتوا ورکړه، ربښتیا هم د سقاؤ زوى د شیطان په لاره روان ؤ، سقاؤ له هر ډول علم او پوهې بې برخې ؤ، بې سواده او جاهل ؤ، طبیعي ده چې جاهلان په حلالو او حرامو نه پوهیږي، د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

سقاؤ زوی د خپل جهالت له امله د دین او ملت دښمن جوړ شوی ؤ، هغه ته بد په نظر ښه ورغلي وو او ښه په نظر بد چې د ډېرو بدو اعمالو په کولو يې زړه سخت او زنګ وهلی ؤ. نني سقاؤيان چې د خپل پخواني رهزن مشر سقاؤ ستاينه کوي، دا هم د دوی د جهالت او له تاريخي واقعيتونو څخه د ناخبرۍ له امله ده. نني سقاؤيان د خپلو پخوانيو سقاؤيانو په څېر فکر کوي چې کومې بدې او ناوړه کړنې چې ترسره کوي، په دې ګومان چې ښه کارونه کوي، قرآن کريم دا ډول خلک په ښه توګه راپېژني:

﴿كَلَّا بَلْ رَانَ عَلَىٰ قُلُوبِهِم مَّا كَانُوا يَكْسِبُونَ﴾

ژباړه:«هېڅکله نه، بلکې حقيقت دا دی چې د دې خلکو زړونه د دوی د بدو عملونو [له امله] زنګ وهلي دي.» (سورت، مطففين، ۱۴ آيت)

﴿قُلْ هَلْ نُنَبِّئُكُم بِالْأَخْسَرِينَ أَعْمَالًا الَّذِينَ ضَلَّ سَعْيُهُمْ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَهُمْ يَحْسَبُونَ أَنَّهُمْ يُحْسِنُونَ صُنْعًا﴾

ژباړه: ای محمده(ص)! «دوی ته ووايه، آيا تاسو ته خبر درکړو چې په خپلو کړنو کې تر ټولو زيات زيانمن کسان څوک دي؟ هغوی چې خپلې هلې ځلې يې په دنيوي ژوندانه کې له سمې لارې منحرفې شوي دي او انګيري چې ښه کارونه کوي.» (سورت، کهف،۱۰۳، ۱۰۴)

سقاؤ له آره غل، قطاع الطريق، قاتل، زناکار، ظالم، د مکتب او پرمختګ دښمن، ورانوونکی او د انګرېزانو لاس پوڅی ؤ. سقاؤ يو سوچ جاهل انسان ؤ، له دې امله د علم او زده کړو مخالف ؤ، مکتبونه او کتابونه يې وسوځول، د انګرېز پلوه نيمه ملايانو او د شور بازار حضرتانو په لمسون او د خپل جهالت له امله يې مکتب او د مکتب کتابونه حرام بلل، په داسي حال کې چې په خپله نالوستی او جاهل ؤ، د هغه مهال د کابل د حبيبي لېسې يو هندوستانی استاد چې د سقاؤ ناانسانی کړنې يې په خپلو سترګو ليدلي دي، نوموړي لېسه (چې په افغانستان کې لومړنی لېسه وه) د سوځولو او ويجاړولو په هکله ليکي:«بچه سقاؤ په لومړي بريد کې د ښار شمالي څنډو (شهرآرا) ته رارسېدلی ؤ، حبيبيه لېسه هم هماغلته وه. د غلو غدی لومړی شپه په دغه ښوونځی کې تېره کړې وه، زياتره زده کوونکي له ليليې تښتېدلي وو، يوازې د کوهستان هغه پاتې وو، دوی خپلو ورونو ته انتظار کاوه. د ښوونځي په اشپزخانه کې وريجې او مسلې [موجودې] وې، غلو پلو پوخ کړ، په نغري کې يې اور پر مېزونو او څوکيو، د پارسي، انګليسي او وولاستون پر پرېړو قاموسونو، درسي کتابونو او کتابچو بل کړی ؤ، نقشې به يې ډېرې خوښې شوې وی، ځکه راتاؤيدې او ښه اور يې کاوه.

**امان الله خان (کافر) ؤ! کتابونه کافران وو! مېز او څوکی کافران وو! غلو وسوځول او خپله تقوا يې ثابته کړه.»** (سيد مجتبی علي: په يو بل وطن کې. ژباړن: نورالحق حيدر. ۳۳۰-۲۶۸-۲۶۷ مخونه)

کله چې سقاؤ کابل اشغال کړ سيد مجتبی علي د سقاؤ د يو فرمان د صادرولو په اړه ليکي: «سبا يو فرمان صادر شو، د فرمان نچوړ دا ؤ: **امان الله خان کافر ؤ، ماشومانو ته يې الجبر او جغرافيه ورښوول، ده ويل چې ځمکه ګرده ده.»** ليکوال زياتوي:«د چا زړه ته نه لويده چې په يوويشتمه [شلمه] پېړۍ کې دې يو څوک دغسې فرمان صادر کړي. خو که د بچه سقاؤ غونډې يو لوټمار او غل د پاچاهۍ پر تخت کېناستای شو، بيا نو هر څه امکان درلود. خبره تر دې محدوده نه وه، پر فرمان مو يوازې د ملايانو نه، بلکې د امان الله خان د وزيرانو لاسليکونه هم وليدل. د خلکو پر زړونو يې نېزې اېښي وې او دغه لاسليکونه يې ترې راټول کړي دي، ګڼې کوم لېونی به هغه فرمان لاسليک کړي چې بچه سقاؤ په کې د هېواد پاچا اعلان شوی وي؟» (هماغه کتاب. ۲۸۵مخ)

سربېره پر دې د سقاؤيانو مشر (خادم دين رسول الله!) يو قرآن خور کس هم ؤ، هغه چې د امان الله خان له حکومتي چاررواکو سره په قرآن ژمنه کړې وه چې د حکومت مخالفت به نه کوي، د خپلې ژمنې پر خلاف يې عمل وکړ چې په پای کې هماغه قرآن ووهلو([1]) سقاويانو چې کله کابل اشغال کړ نو په چور او چپاول سربېره يې د خلکو پر ښځو تېري وکړل، تر دې چې د نادر خان، علي احمد خان پر کورنيو هم تيري تر سره شول. کله چې نادر خان د سقاؤ د زوی غوښتنه چې کابل ته ورشي او لوړ مقام ترلاسه کړي ونه منله او تهديدونکی ليک يې ورولېږه او په څو جګړو کې يې سقاويانو ته ماتي هم ورکړي وې نو د سقاؤ زوی چې له لاسه يې نور څه نه کېدل، د نادر خان د کورنی غړي چې شمېر

---

([1]) ـ څو ورځې وړاندې بچه سقاؤ د جګپوړو افغان چارواکو په حضور کې پر قرآن لاس کېښود، لوړه يې وکړه چې د شينوارو پر خلاف به د امان الله خان ملاتړ کوي، سل ټوپک يې تر ګوتو کړل او بيا ورک شو. (سيد مجتبی علي: په يو بل وطن کې. ژباړن: نورالحق حيدری)



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

يي (۶۱) تنو ته رسيده، د حضرت نور المشايخ له کوره ارگ ته يوووړل او ناوړه اعمال يي تر سره کړل. په کابل کې د سقاؤ د ناموسي تېريو په اړه امريکايي ژورنالسته او ليکواله ريه تالي ستيوارټ داسي ليکي:«... هغه خپلو نفرو ته وويل چي تاسو آزاد ياست چي د نادر د کورنی کورونو ته ولاړ شئ او څه چي غواړئ هغه ترلاسه کړئ، هغه امر وکړ چي دا کورنی کوهستان ته واستوي مگر وروسته يي له نرمی کار واخيست.» (اور په افغانستان کي.ژباړونکی: محقق مرسيتال عبدالحسيب حکيمي.۶۷۲مخ)

د سقاؤ او سقاؤيانو د بي ناموسيو په هکله د هېواد وتلي مورخ مرحوم ملا فيض محمد هزاره چي د سقاؤيانو د شرارتونو پر مهال په کابل کي اوسيده او د سقاؤ ورځنی کړني يي په خپل کتاب (تذکرالانقلاب) کي ليکلي دي او په (-۸۳-۷۱-۶۵ ۱۶۷-۱۵۷-۱۴۴-۱۴۱-۱۴۰-۱۳۹-۱۰۰-۹۹) او نورو مخونو کي يي د سقاؤيانو د ناموسي تيريو يادونه کړي ده، يونس قانوني او نور سقاؤيان کولی شي د نوموړي کتاب په نبنه شوي پاڼي ولولي نو پوه به شي چي آيا **حبيب الله کلکاني، خادم دين رسول الله او شهيد ۇ که د فيض محمد کاتب په اصطلاح، (هادم دين رسول الله)** ۇ.

يونس قانوني چي ځان يي يو رښتينی افغان او په حقه ښودلو زياته کړه:«... که نن ورځ ... موږ د تاريخ د يوي ورکي شوي دوري وصل کول غواړو... او حبيب الله کلکاني، خادم دين رسول الله د مريستون ښتن کيږي دا د افغانستان تاريخي ارزښتونو د له منځه وړلو په مانا او قومي مخالفتونو ته لمن وهل نه دي.»

موږ يونس قانوني او داؤد کلکاني ته وايو چي تاسو نه شئ کولی تاريخي واقعيتونه او تاريخي ارزښتونه د سقاؤ د هېوکو په ايستلو او ښخولو بي ارزښته کړئ. د سقاؤ شرارتونه او د هغه وژل کيدل په تاريخ کي په ښه توگه خوندي شوي دي، تاسو نه شئ کولی په دې کړنو سره په رښتيني تاريخ کي بدلون راولئ. په هېڅ صورت سره نه شئ کولئ چي له غله او قطاع الطريق څخه خادم دين رسول الله جوړ کړئ.

تاريخ به ستاسو دا کړني چي د سقاؤ د هډوکو ډرامه مو ترسره کړه هم ثبت کړي او راتلونکي نسلونه به لعنت درباندي وايي.

داؤد کلکاني د خبرو په اوږدو کې خپل غل مشر د سقاؤ زوی شهيد وباله، زياته يي کړه چي په ناځوانی سره شهيد کړای شو. يونس قانوني دا هم وويل:«د امير حبيب الله خان خادم دين رسول الله درناوی او تکريم په دې مانا نه دی چي د امان الله خان ارزښتونه له منځه يوووړل شي.»

يونس قانوني دروغ وايي، دا سقاؤيان دي چي د غازي امان الله خان شخصيت ته زيان ورسوي خو د امان الله خان شخصيت لکه څرنگه چي تاريخي شواهد شهادت کوي د افغانستان خلکو ته سپيڅلی او دروند دی او وي به، سقاويان له دي کبله خپل غل مشر خادم دين رسول الله بولي چي د امان الله پر وړاندي يي بغاوت کړی ۇ نو کله چي سقاؤ خادم دين رسول الله شو، نو امان الله خان د سقاؤيانو په نظر کافر دی.

دا چي سقاؤيان خپل غله ته شهيد وايي نو مقابل جانب، د وزيرستان او لويي پکتيا اتلانو، قاتلان او جنايتکاران بولي. سقاؤيان چي د خپل غله مشر وژل ناځوانه عمل بولي او د هغه وژل په نادر خان پوري ورتړي چي گواکي په قرآن کي د ژمني سربيره يي وژلی دی، سوچه دروغ دي، نادر خان لکه څه ډول چي ژمنه يي کړي وه په خپله ژمنه يي عمل وکړ، سقاؤ او ۱۵ تنه انډيوالان يي قبايلو د خپلو وژل شويو سرتېرو په بدل کي ووژل، په دې اړه تر ټولو ښه مالومات ليکوالي ريه تالي ليکلي دي چي په لنډو يي ليکو:«څو ورځي وروسته نادر، ټولو ته اعلان وکړ چي غواړي د سقاؤ زوی معاف کړي، مگر له مامورينو او قبايلي مشرانو يي غوښتن ليکونه ترلاسه کړل چي په کي هيله څرگنده شوي وه چي (دغه خايينان موږ ته په لاس راکړئ چي له منځه يي يوسو.)

د سقاؤ زوی له خپلو ملگرو سره د شېرپور هوايي ډگر ته يووړل شو چي ډېر قبايل په هغه ځای کي په انتظار وو. وزير، مسيد، منگل، ځدران او دوړ. دوی ته وويل شول:(دغه دی د سقاؤ زوی، دا ستاسو کار دی چي وژنی يي او يا يي معافوی.) وزيرو وويل چي موږ [موږ] يي نه شو معافولی او ځاځي بايد د هغه د اجل پرېکړه وکړي. ځاځيو وويل دا په وزيرو پوري اړه لري.

ليکن دوی [وزير] د موضوع د عملي کولو خلک وو، ځينو وزيرو خپلي تمانچي وايستلي، باران وريده او دوی په ختو کي ښوييدل، ليکن کولی يي شول صحيح ډزي وکړي، هغوی د سقاؤ پر زوی ډزي وکړې، د ټوپکو نورې ډزې هم وشوی، حميدالله، شېر جان او څوارلس تنه نور کسان ووژل شول.

د دوی مړي درې ورځي پر پايو ځړول شوي وو چي خلک يي ووينې، د دغو مړو څخه عکسونه واخيستل شول ... .» (اور په افغانستان کي.۷۲۲-۷۲۱مخونه)


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ



(اعدام شوي سقاؤيان)

په پای کې یونس قانوني د سقاؤ زوی د افغانستان ګډ ویاړ وباله ویې ویل:«د افغانستان ټولي ویاړني د ټولو افغانانو ګډ افتخارات دي، څوک چې غواړي دا وویشي د افغانستان له تاریخ سره جفا ده.» داؤد کلکاني خپل غله مشران د خپل تاریخ ستر او مهم شخصیتونه وبلل.

موږ سقاویانو ته وایو چې تاسو په دې نه پوهیږئ چې د سقاؤ زوی د افغانستان ویاړ دی که یو نه پاکیدونکی تاریخي شرم؟ سقاؤ یوازې د خپلو سقاوي غلو لپاره ویاړ کیدلی شي، نه ټولو افغانانو ته، ځکه چې **(هره مرغۍ په خپل سبل کې الوزي)**

نېټه:۱۴۰۲/۳/۲۷ل. ل

**نور بیا**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ